مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۴/۲۳

# ولې کتاب نه‌لولو؟

د کتاب نړیواله ورځ تېره شوه، موږ ډېر پرې خبر نه شو. امریکایان تر ټولو ډېر او افغانان تر ټولو کم مطالعه‌کوونکي خلک وګڼل شول.  ونه‌شرمېدو.

موږ افغانان، په تېره پښتانه کتاب نه‌لولو. پلمې ډېرې دي. غریب یو او د کتاب پیسې نه‌لرو. ښه کتابونه نه‌شته. هغوی چې کتابونه لولي، څه ګټه یې کړې، چې موږ یې به یې وکړو؟ وخت نه‌شته. چا یې په ګټو نه‌یو خبر کړي او...
زموږ افغانانو لویه ستونزه دا ده، چې د خپلې هرې نیمګړتیا لپاره له ځانه بهر یو ملامت لټوو. کله چې لاس ژوبل کړو، چاړه ملامتوو.

د نه‌لوستلو لپاره هم پلمې له ځانه بهر لټوو. څومیاشتې مخکې یوه، عجیبه سروې خپره شوه، د افغانستان په مارکېټ کې د یوه کال په ترخ کې د ژاولو مارکېټ شپږ میلیونه ډالر او د کتابونو مارکېټ دوه میلیونه ډالر حساب شوی و. موږ شاوخوا څلوېښت میلیونه خلک یو، ښایي د مطالعې وړ مو لس میلیونه شاوخوا وي. درې ځلې مو تر کتابونو پر ژاولو ډېرې پیسې ورکړي دي. که دا پیسې مو په ډوډۍ یا درملو ورکړې وای، بیا یې منطق درلود. ډوډۍ او درمل د ژوندي پاتېدا لپاره ضروري لومړیتوبونه دي، خو ژاولې؟

که وایو چې غریب یو او د کتاب پیسې نه‌لرو، نو ژاولو ته یې ولې لرو؟ سینګار ته یې ولې لرو؟ فیشن ته یې ولې لرو؟ په ټوله بډایه اروپا کې د نرینه و ښځینه‌وو لپاره د فېشن او ځان‌سینګارولو دومره تلوسه نه‌شته، لکه په بې‌وزلیو افغانانو کې چې شته.

ایران له امریکا سره جګړه کوي. ښايي د څواک نورې سرچینې به هم لري. تېل لري،  زېربنا لري، خو باور لرم، چې یو لوی عامل یې دا دی، چې ایرانیان کتاب او مطالعه داسې لومړیتوب ګڼي، لکه اوبه، درمل،  خواړه او اکسیجن. ټولنه د وګړیو ټولګه ده، که وګړي لوست کوي، نو روښانه کیږي. د روښانه انسانانو ټولګه روښانه ټولنه وي. د هوښیارو انسانانو حکومتونه مسئول، خدمتګار او پیاوړي وي. لوستي خلک خپل نظامونه خدمتګارۍ ته مجبوروي. د لوستیو وګړیو ټولنې له اقتصادي پلوه مختګ کوي او خدمات په‌کې ښه وي. لنډه یې دا چې کتاب لوستل فردي او ټولنیز ژوند ښه کوي.

په هیندوستان کې څو ځلې د هیندوستاني پوهانو او لیکوالو کورونو ته مېلمه شوم. د کور لوښي یې ډېر کم، ساده او ارزان‌بیه وو، خو ټولو په کورونو کې بډای کتابتونونه لرل.  په اروپا کې چې ژوند کمپیوټري شوی دی، کتابتونونه تر پخوا لاپسې مهم شوي دي. په هر ښوونځي کې کتابتونونه شته، خو بیا هم اونۍ کې یوه ورځ ماشومان عامه کتابتونونو ته بیايي، هیڅوک دا پلمه نه‌کوي، چې په ټولنیزو جالپاڼو کې بوخت یو او فیزیکي کتاب ته وخت نه‌لرو.
زه پوهیږم، چې د همدې لیکنې په وړاندې به افغانان ډول ډول استدلال کوي، چې ولې کتاب نه‌لولي. د عواملو شاربل، دلایل موندل او استدلال کول حللاره نه ده.

ملګری مې بې‌وزلی و، موږ دواړه بې‌وزلي وو، تر ځوانۍ مو په مړه ګېډه ډوډۍ ونه‌موندله. سخت فیزیکي کارونه مو هم وکړل، خو ملګري مې د ژوند تر ټولو ډېره مطالعه هماغه د سختۍ په کلونوکې وکړه، ده باور نه‌درلود، چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مطالعه به یې مادي ژوند ښه کړي، خو مطالعه یې د پوهېدو لپاره کوله. د کتاب پیسې یې نه‌لرلې، خو کتابونه یې لرل.

موږ شکایت کوو، چې کتابونه نه‌شته، یا یې وخت نه‌لرو، یا یې پیسې نه‌لرو، یا ګټه نه‌لري. ناشران او کتاب‌پلورونکي شکایت کوي، چې کتابونه شته، خو څوک یې نه‌اخلي. لیکوال، څېړونکي او مولفان وایي: د کتاب لیکلو انګیزه نه‌لري، مایوسه دي، کتابونه یې نه‌خپرېږي او دوی وږي دي.

که فیزیکي کتابونه نه‌وي، نو برېښنایي pdf کتابونو ته مو زړه تنګېږي، په ډېر کبر او غرور وایو، دا نو څوک لولي، ځیني په ډېره کلانکارۍ وایي: دومره اوږدې لیکنې او پنډ کتاب نو څوک لولي؟ لکه د نړۍ تر ټولو لوی میلیونران چې د ژوند هره شېبه یې میلیونونه ډالر ګټي! موږ خوار کبرجن یو. په ټولنیزو رسنیو کې بې‌ادبه، ښکنځلمار، بې‌تربیته او سپکژبي یو، ټولنیز اخلاق نه‌پېژنو، که یې نه‌منئ د افغانانو فیسبوکونو، X ، ټویټرپاڼې یا ټیک‌ټاک ته سرورښکاره کړئ، خوا به مو راوګرځي. موږ په ټولیزه توګه بې‌ادبه یو، ځکه ادب او اخلاق تر کورنی روسته له کتابونو زده کیږي او موږ کتاب نه‌لولو. ځیني به وایي چې په نورو ټولنو کې هم بې‌ادبه او بداخلاق وګړي شته، په نورو کې دومره نه‌شته او که وي، هغوی ماړه او هوسا دي، بې‌ادبي له مستۍ او مړښته کوي. وږي، بې‌وزله او بحران‌وهلي افغانان د بې‌ادبۍ او بداخلاقۍ حق نه‌لري، ډېر بد ښکاري.

ټولنه به غریبه وي، خو هغوی چې ډېرې پیسې لري هم مطالعه نه‌کوي. یوشمېر افغان نرینه دوه یا درې ښځې لري، تر لسو یې بچیان زیات وي، خو په کورونو کې د لسو کتابونو د لرلو په اهمیت و ارزښت خبر نه‌دي. که د ژاولو مصرف درې ځله تر کتابونو زیات وي، نو د سپګرېټو او نصوارو به څو واره زیات وي؟

په افغانستان کې د مصرفېدونکو نصوارو لګښت، ترې راپېښې ناروغۍ، چاپېریال ته اوښتې تاوان او ناولتیا محاسبه کړئ، باور لرم چې سلګونه‌زره کتابونه پرې خپریدای اولوست ته چمتو کېدای شي. زه باورلرم، چې په افغانستان کې تر کتابونو توکانې (تفدانۍ) ډېرې خرڅیږي. سلګونه داسې کورنۍ شته، چې په‌کې شل کتابونه نه‌شته، خو یوه یا ډېرې توکانې (تفدانۍ) لري.

ښایي د دې په وړاندې استدلال وشي، چې مخدرات او منشیات خو په هره ټولنه کې شته، خو په نورو ټولنو کې کتابونه هم شته، لوست هم شته. موږ بې‌کتابه او بې‌لوسته یو، بې‌وزلي او روسته‌پاتې هم یو.

موږ که وږي یو، که بې‌وزله یو، که تر استبداد لاندې محروم یو، که په جګړو کې یو، که بې‌اتفاقه او په تربورګلویو کې ډوب یو، نو یو لوی لامل یې دا دی، چې موږ نه‌پوهیږو او ځکه نه‌پوهیږو، چې کتابونه نه‌لولو. نور عوامل به یې هم وي، خو بنسټي او لومړنی عامل یې زموږ ټولیزه ناپوهي ده.

موږ خپلو ماشومانو ته تر کتابونو زیات د لوبو وسایل اخلو، پلاستیکي تومانچې او ټوپک ورته اخلو، خو د ماشومانو د کیسو او انځورونو کتابونه نه‌اخلو. موږ هغه ملت یو، چې د میندو په للو للو او د ماشومانو په ترانو پورې ریشخند وهو، پرې خاندو، مسخره کوو یې او د معصومو ماشومانو په لوبو پورې په ټوکو او مسخروکولو زرګونه ډالره د انټرنټ لګښت کوو.

موږ هرډول کتاب ته اړ یو د ماشومانو له لوبو، ترانو، ادبیاتو نیولې ترتخصصي او علمي کتابونو، معلوماتي کتابونو، ذوقي کتابونو او اطلاعاتي کتابونو پورې. تر هغو چې ژوند په کتاب او کتاب په ژوند پورې ونه‌تړو، دغه شته بدمرغي به مو پای ونه‌لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولــئ